**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د عادل امام مقام**

**(ژباړه)**

د جامع ترمذي په شرح تحفه احوذي کې د « مَا جَاءَ فِي الإِمَامِ الْعَادِلِ» باب له ابو سعيد خدري رضی الله عنه څخه روايت شوی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«إِنَّ أَحَبَّ النَّاسِ إِلَى اللَّهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَدْنَاهُمْ مِنْهُ مَجْلِسًا، إِمَامٌ عَادِلٌ وَأَبْغَضَ النَّاسِ إِلَى اللَّهِ وَأَبْعَدَهُمْ مِنْهُ مَجْلِسًا، إِمَامٌ جَائِرٌ.»**

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی ته د قيامت په ورځ تر ټولو محبوب خلک او الله ته د مقام او مرتبې له مخې په هغوی کې تر ټولو نږدې کس، عادل حاکم دی. هغه کس چې تر ټولو ډېر د الله سبحانه وتعالی له قهر سره مخ دی او الله ته د مقام او مرتبې له مخې تر ټولو لرې کس، ظالم حاکم دی.*

ملا علي قاري هروي ويلي چې **(إن أحب الناس)** يعني په دوی کې تر ټولو محبوب کس او امام مناوي ويلي، هغه کسان چې تر نورو ډېر د الله سبحانه وتعالی له محبت څخه برخمن وي. **(وأدناهم)** يعني په دوی کې تر ټولو نږدې؛ **(منه مجلسا)** ملا علي قاري په اړه وايي، چې الله سبحانه وتعالی ته د مقام او مرتبې له مخې نږدې دي او امام مناوي بيا وايي چې الله سبحانه وتعالی ته د خپل کرامت له پلوه تر ټولو نږدې کسان او د منزلت له پلوه تر ټولو لوړ وي. **(إمام جائر)** يعني ظالم حاکم.

*له قاسم بن مخيمره څخه روايت دی چې وايي:* « **إنما زمانكم سلطانكم، فإذا صلح سلطانكم ، صلح زمانكم، وإذا فسد سلطانكم، فسد زمانكم**» *ژباړه: له شک پرته چې ستاسو عصر ستاسو په حاکم پورې تړاو لري، که چېرې مو حاکم اصلاح شو، عصر مو هم اصلاح کېږي او که مو حاکم فاسد شو، عصر به مو هم فاسد شي.*

په يو روايت کې راځي چې کله د مسلمانانو خليفه عمر بن عبدالعزيز رحمه الله خلافت ته ورسېد، حسن بصري رحمه الله ته يې ليک وليکه او له هغه څخه يې د عادل امام د ځانګړنو په اړه پوښتنه وکړه. امام حسن بصري رحمه الله د مسلمانانو خليفه ته داسې وليکل:

«اې امير المؤمنينه! پوه شه چې الله سبحانه وتعالی عادل امام د هر بې لارې کس لارښود، د هر ظالم مخه نيوونکی، د هر مجرم اصلاح کوونکی، د هر کمزوري ځواک او قدرت، د هر مظلوم ملاتړی او د هر ځورېدلي پټنځای ګرځولی دی. اې امير المؤمنينه! عادل امام هغه مهربانه او زړه سواندی شپون دی،

چې د خپلې رمې لپاره يې تر ټولو ښه څړځای غوره کوي، هغوی له خطرناکو څړځايونو څخه لرې کوي، له داړونکو حيواناتو څخه يې ساتي او اجازه نه ورکوي چې مال يې يا ګرمي ووهي او يا يې کومه حشره وچيچي.

اې امير المؤمنينه! عادل امام د هغه پلار په څېر دی چې پر خپلو بچيانو مهربانه وي؛ کله چې کوچنيان وي، د هغوی د ارامۍ او رزق موندلو هڅه کوي او کله چې لوی‌ان شي، زده کړه ورکوي او تر کومه وخته چې ژوندی وي، د خپلو بچيانو لپاره ذخيره کوي، ترڅو د نوموړي له مرګ وروسته هم هغوی ذخيره ولري. اې امير المؤمنينه! عادل امام د هغې مهربانې او زړه سواندې مور په څېر دی، چې خپل اولادونه پرې ګران وي، د امېدوارۍ پر مهال خپل اولاد په سختۍ لېږدوي، په سختۍ يې زېږوي او په ماشومتوب کې يې روزنه کوي؛ داسې چې په شپو شپو د خپل ماشوم په خاطر ويښه ناسته وي، د هغه په ارامۍ سره ارامه کېږي، ځينې وخت هغه ته شيدې ورکوي او ځينې وخت يې له شيدو بېلوي، د خپل ماشوم په خوشحالۍ خوشحالېږي او په غم يې غمجنه کېږي.»

اې مسلمانانو! ايا ستاسو حکام دغه صفتونه لري؟ ايا هغه وضعيت نه وينئ، چې همدا اوس ورسره لاس او ګرېوان يئ؟ موږ په لومړيو کې خپل حکام ملامتول، وروسته مو د خاينينو په توګه وپېژندل؛ خو اوس وينو چې هغوی د فسق، فجور او کفر په مختلفو ډولونو کې راګير دي. هغه تصويرونه مو ليدلي چې په اړه يې څه نه شو ويلی او عربي ژبه دا توان نه لري، چې د اسلامي امت په حق کې د هغوی خيانتونه او جرمونه بيان کړي او موږ به نور هېڅکله د هغوی د عدالت او بې‌عدالتۍ په اړه څه ونه وايو؛ نو د قيامت په ورځ به د الله سبحانه وتعالی پر ړ ر وړاندې د دوی حالت څنګه وي؟ له الله سبحانه وتعالی څخه د سلامتۍ او عافيت غوښتنه کوو.

**ژباړه: بهير «وياړ»**